شریف الله دوست سرواني ۲۰۱/۰۲/۱۲

# داکبرزمينداوري ځيره د سيمو په لرغونوادبياتوکي

(د ۸،۷هجري پيړی پښتولرغونی ادب )

لومړی برخه

په دی ليکنه کي داروانښاد محمداکبرزمينداوري لرغونی ادبي ځيره دسيمو(هند، چين، ترکی، روسيی اوعربو د ۷-۸ هجري پيړی له ادبياتو سره ښودل کيږي او ورسره په څنګ کي د پښتوادب په تاريخ کي دهمدی دوری(۷-۸)هجري پيړۍ پرشعري ډول، اوهمداړول ددی دوری پرسياسي، ټولنيز، اقتصادي، علمي، عرفاني، اوادبي اړخونوباندي په خراسان( =افغانستان) کي يادونه سوی ده .

. په (۷-۸ )هجري پيړی کي دپښتوژبي پرخپلو اصلي ادبي ژانرونو، دختيځ ځيني ادبي ژانرونه، لکه قصيده، مثنوي، اوغزل هم دپښتوژبي او ادب ترلمني پوري رارسيدلي او ځای يی نيولی وو. خوترڅنګ يی د پښتوادب خپل ځاني شفاهي او تحريري ژانرونه هم درلوده.
. د اروانښاد اکبر په پير کي پښتو شعر يوررزمي اوحماسي بڼه غوره کړی وه لکه په (۶۵۰) هجري کال کي دهوتك بابا رزمي سندري چي پښتانه ځوانان يی دمغلو دظلمونو دمخنيوي لپاره جګړی ته هڅول، داحال پټي خزانی ترمونږ پوري رارسولی اود( هوتك بابا، دبارو، دزوی) سندره يی داسي رانقل کړی ده:

پرسورغربل راته نن اوردی          وګړيه جوړراته پيغور دی
هرکلي کوربانديي مغل راغی          هم په غزنه هم په کابل راغی (۱)

ترهوتك بابا وروسته که سړی د اکبر د اشعاروڅرك څرګند کړي دی هم دهمدی مغلو څخه شاکي اوفريادي ښکاري، که څه هم زمونږ په لاس داکبرزمينداوري دشعر عشقي بيلګي راغلي خود اشعارو له يوی برخي څخه يی چي ښايي دده له ديوانه اوياشعري ټولګي څخه دتباهی يانيستی له سيلابه ژغورل سوي، نوموړی دپرديو يرغلګرو(چنګيزاوتيمورګرګاني) له لاسه په تکليف سوی اوشکايتونه يی ورڅخه کړي لکه په دی بيت کي :

دمغلو(تمر)هسي په اور وسوم          چي به هيرپه دی ماتم زميداورکړم (۲)

دمحمدغوري په مړينه سره دپښتنوپرسياسي، اقتصادي، ادبي، علمي، او تاريخي هڅواو اړخونو ژور بدتاثير پروتی او دپښتني ټولنيزنظام ګډوډي رامنځته سوه، دهيواد زياتره سيمي دځايي ملکانو له خوا وويشل سوی، په دی وخت کي نيمروز، بست، زمينداور، اودهيوادنوري سويل لويديځي سيمي د چنګيزيانوله خوا رالوټل کيدی چي مخنيوی يی دخوارزمشاهيانوله لاسه هم پوره نه وو.
په دی ناورين، کي ډيري آدبي، علمي، سياسي، تصوفي، اوعرفاني ځيري او ورسره کتابونه له منځه ولاړه اويا ډيری علمي او ادبي شخصيتونه له هيواده څخه دعراق، هند، او نوروسيموپه لور خپلي سيمي دمغلو دوحشي کړنوله بيري پريښودلی ډيري کتابخانی اوقلمي نسخی وسوځل سوی چي ددی کرغيرن توفان څپو د(محمداکبر) ليکلي اثارهم له ځانه سره يوړه.
په قوي احتمال ويلای سوچي اکبردي دنظم ترڅنګ په نثرکي هم لوی لاس درلوداونثري اثاربه يی درلودل، داخبره ځکه سړی په جرئت سره کولای سي چي پخپله د اکبر دشعر پوخوالی ددی خبري شاهد دی.
په دی عصرکي د اکبرزمينداوري ترڅنګ په لروبر پښتنوکي دعلم توري، اوادب ځيني نورسالاران هم يادولای سو لکه: ملکيارغرښين، سلطان بهلول (۸۵۰ هجري) شاوخوا تر اکبر وروسته خليل نيازي (۸۹۰هجري) او زرغون خان نورزي (۸۸۰ هجري) چي دقلم ترڅنګ يی داړتياله مخي توره هم چلول او دجګړی ډګر ته به يی ځوانان په خپلو رزمي او هيوادپالو شعرونوسره د پرديويرغلګرو دسرکوب لپاره تشويق کول. دا وخت چي د چنګيزاو تيمورګرګاني دګرګ په ځيروحشي حملی شاوخوا د دوو پيړيوپه ورانيوکي مورږ د اريانا(خراسان = افغانستان) دمادي شتمنيوترڅنګ معنوي شتمني هم له خاورواوايروسره برابره کړه چي په دی اورکي داکبرزمينداوري له اثارو څخه لاځوپاړکي (شعري ټوټی) راپاتي دي چي په لاندي ډولوويشل کيږي.

داکبر زمينداوري دشعرنمونی


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

داکبر دشعرنوبیلگي درې ډوله دي چي یوډول یې غزل دی چي تراکبرمخکي په پښتوادب کي ددی ژانربله بیلګه نه لرو ،دوهم اته څپیزه مثنوي ده اودریم ډول یې دپښتوخپل ځاني ژانرچاربیته ده چي لیکوالانوپه ترتیب سه بحثونه پرکړي دي .

دپښتودلرغوني دورې دنظم اوشعرځانګړني (۳)
(۱) پخواني اولرغوني پښتوشعرونه دافکارویه لحاظ ساده چي دزمانی اوټولنیزاغیزله ورایه ورڅخه څرګندیږي.
(۲) دپښتوژبي دخپلو ځاني اووسوچه ویینو(لغاتونو) شتون پکښي درونده‌پله یز ارزښت لري.
(۳) پښتودخپل ملي ژانرو،ملي وزنو،اوملي بحرونورنګ اوخوندپکښي له ورایدي څرګندیږي اودشرقي اوعربي ژبواوادب تاثیرات ورته لاره نه ده موندلی.
(۴) دپښتوولسي ادب لنډیو ،نکلونو ،متلونو ،حماسي او غنایي،افسانواوناروکي هم دپښتوسوچه والی مسلط دی.
که داکبر زمینداوري شعر دپښتوکلاسیکوادبیاتو شعرونو اونظمونوکي وګورو اړیوددوهمي ،دریمي ، څلورمي، اوپنځمي هجري پیړی له اشعارویعني امیرکروړ شیخ اسعد، ښکارندوی، تایمني او بابا هوتك داشعروسره یې پرتله کړو داکبر زمینداوري دشعر ورشو دعربي، ترکي، اودري (پارسي) ژبوترتاثیر څه ناڅه لاندي ده یعني پښتوژبه هغه سوچه لغاتونه چي داسلام دلومړنیو پیړیوپه شعرونواونثرونوکي لیدل کیږي هغه دارواښاداکبر زمینداوري په اشعاروکي کم رنګي دي.

---

ددري ادب لومړنی غزل داکبر زمینداوري دپښتوغزل په هنداره کي :

غزل دشرقي ادبیاتو ژانر دی
کله چي په دري ادبیاتوکي ددري شعر مخیني ته ګوروهغه ابتداوپیل هم دچنګیزي عصر له لومړنیو څخه کیږي چي بنسټګریې په دري ژبه کي تردامهاله( حکیم سنایي غزنوي) بلل کیږي چي په شپږمه هجري پیړی کي یې دژوند زمانه ښودل سوی ده..
مخکي ترشپږمي هجري پیړۍ غزل په دري ادبیاتوکي دنن ورځي په مفهوم نه ؤ هغه څه چي دغزل په نامه یادیده تغزل اوتشبیت (دقصیدی په سرکي څوبیته دعشق اوځوانۍ) به پکښي ګډیدل نه په ځانګړي توګه دغزل په بڼه.
داکبرزمینداوري په عصرکي دري ژبي شعرهم دښکلا اوخوږوالي اوج ته رسیدلي ؤ چي له هغي جملی څخه شمس الدین محمدحافظ شیرازي په (۷۲۶هجري) زیږیدلی عصمت بخارایي (۷۹۰) هجري شاوخوا کمال خجندي تاجکستاني (۷۶۰) هجري اومولاناعبدالرحمان جامي (۸۱۷) هجري زیږیدنه دا د دري ژبي خوږژبي غزلبول شاعران دي (۴) چي داکبر زمینداوري په وختوکي یې دپښتوژبي سره په څنګ کي دري شعر اوغزل تخلیق کاوه . دوی په اصل کي ددري ژبي شاعران دي دري ژبه هم په اریانا (خراسان) اواوسني افغانستان کي پیداسوی اوغوړیدلی ده چي ادبیات یې هم په دري ژبه پوري اړه لري خوپه داورستیو کي دځینوسیاسي جغرافیایي ویش اوسیاسي غرضونوله مخي یوه تاجیکي اوبله پارسي ویل کیږي. دموضوع څخه لیري نه ځو ددري غزل یادول اوداکبر دپښتوغزل پرتلنه ځکه باید وسي چي لیري نه ده چي اکبر دي په دري ژبه کي هم لاس درلوداوپه دري ژبه به یې اشعارویلي وي ځکه دده په شعر کي ددري ژبي سره ځیني مشترك کلمات اودده دشعر پوخوالی سړي ته ددی خبري دکولوباور اوجرئت ورکوي چي نوموړی دي دخپل وخت په مروجوژبو(دري، عربي ) باندي پوهیده اوعلم دي یې پکښي کړی وی راسئ ددی خبري دتائیدلپاره یوڅه وړاندي ولاړسو اوداکبر په شعر دخراساني اوعراقي سبك ځیني بیلګي پیداکړو.

داکبر زمینداوري په شعر کي دخراساني مکتب څرك:
د دري ژبي ادبي مکتب ددریمي هجري پیړی څخه پیل کیږي اوترشپږمي هجري پیړی پوري رسیږي چي په دی وخت کي بیایوبل مکتب چي دعراقي مکتب په نامه یادیږي رامنځ ته کیږي

---

خراساني مکتب ډیره لویه سیمه ترخپل پوښښ لاندي راوستلی وه لکه : اوسني افغانستان، تاجیکستان، ماوراءالنهر، ترکستان اوداوسني ایران ځیني برخي چي له طاهریانوڅخه پیل بیاترصفاریانو، سامانیانو، غزنویانو، اوغوریانو ترلومړنیوپوري دوره په خپل غیږ کي نیسي (۵) لومړی به دخراساني مکتب ځانګړونوته راسو بیابه وروسته داکبر داشعاردنوموړي مکتب په هنداره کي در وښیو.

دخراساني مکتب ځانګړني
۱- دشعري غالب : په دی ادبي مکتب کي له اره قصیده وه خوشاعرانودمثنوي په ویلوهم نوموړی غالب ډك کړی دی چي داکبر زمینداوري اته څپیزه مثنوي هم ددی بیلګوڅخه یوه ده.

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

۲- حماسي روحیه پکښي دپام وړبریښي.
۳ – دشعر او ادب ژبه په دی دوره کي ساده،طبعي او روانه وه چي داکبر دشعر ژبه هم ساده ،روانه، اولفظي پیچلتیا نه لري.
۴ - ددی شعرمکتب دخوښیواومستیوډك دی دغم اورنځ کلام نه پکښي ترسترګوکیږي خوداکبر زمینداوري شعردده تروخت دچنګیزي اوتیموري ظلمونوڅخه دوخت دحالاتورنګ اخیستی ځکه داوختونه دي چي زمورډهیواد اداري نظام دخپلواریائیانواوافغانانوپه لاس کي وو یوازي به له یوی کورنی څخه بلي ته انتقالیدی لکه: دطاهریانوڅخه صفاریانواوله صفاریانوڅخه نورو نوروته..
۵ – دخراساني مکتب شاعران ریښتني اوپه کلام کي یی دذهني اوخیالي نړی انځورکم دی ،چي اکبر هم دخیال ترڅنګ ریلیزم اوواقیعت هم انځورکړی دی.
۶ – عقلاني جنبه پراحساساتي هغی برلاسي ده.
۷ – دادبي فنونوڅخه ګټه اخیستل سوی.
۸ – دعربي لغاتونفوذپکښي کم ښکاري.
۹ – عاشق ترمعشوق په شعرکي لوړمقام ته رسیدلی ،داعشقي رنګ داکبرپه شعرکي هم څپی وهي.
۱۰ – په مبالغه،اغراق، ستایني،اوغندني کي خپل منځلارتوب له لاسه نه ورکوي .
۱۱ – انځورګري دخراساني مکتب په شعرکي دپام وړپرمختګ دی.

داوی دخراساني مکتب ځیني ځانګړني اوددی مکتب په هنداره کي داکبر زمینداوري دشعرجوړښت که څه هم ځینوادب پوهانودخراساني مکتب دوام ترشپږمي هجري پیړی د ،مختاري ،غزنوي اونوروترشعرونوپوري محدودوي خولاتراوومي اواتمي هجري پیریو پوري ددی سبك رنګ اوخوندپه لږ تغییرڅرګنددی لکه دحافظ شیرازي اونوروپه شعرونوکي چي پهٔ (۷-۸-۹ )هجري پیریوکي عراقي مکتب بر لاسي کیږي اویوګډمکتب د(خراساني،عراقي) سبك ورڅخه جوړیږي چي وروسته بیاخراساني مکتب خپل ځای عراقي مکتب ته پریږدي.

---

عراقي ادبي مکتب اوداکبرزمینداوري پرشعریی تاثیر:
عراقي مکتب هغه ادبي مکتب ته وایي چي دوخت اوزمان ددود سره سم په (۷،۸،۹)هجري پیریوکي دهندي ادبي مکتب ترڅنګ پرمخ بیول کیدی.
دهندي مکتب تاثیرات دهیوادپه سهیل ختیځ اودعراقي مکتب تاثیراتودخراسان اوافغانستان شمال لویدیځي اوسهیل لویدیځي سیمي په برکي نیولي وی.
دسلطان مسعوغزنوي په ماتي سره اودسلجوقیانوپه منځ ته راتګ سره دخراسان ادبي مکتب ترڅنګ چي دغزنویانوله خواحمایه کیدی او په څنګ کي یی یوبل ادبي مکتب په عراق کي رامنځ سو.

دعراقي مکتب ځانګړني اوداکبر زمینداوري پرشعریی تاثیر:
۱ – عقلګرایي خپل ځای عشق ستایني ته پریښودی،چي دعراقي مکتب داځانګړنه داکبر زمینداوري دشعرمحتواجوړوي.
۲ – مبالغه (اغراق،غلو) په لوړه کچه په شعرکي ځای نیسي.
۳ – عرفان په پراخه اندازه په شعرکي رامنځ ته کیږي چي یویی هم داکبرزمینداوري په (شعر) کي نغښتی دی.
۴ - په عراقي مکتب کي شعر دبیلتون نه بلکه نښلون (وصل) هڅه کوي.
۵ – ارمان خپل ځای واقیعت ته پریږدي.
۶ – ذهني پیمانه خپل اوج ته رسیږي.
۷ – اسلامي فرهنګ اومعارف ته زیاته پاملرنه کیږي.
۸ – هغه ټینګښت اوپروړښت چي دخراساني مکتب په شعرکي ځلیدی په دی مکتب کي دشاعر کار، ناتوانی، او بیچارګی ته پناه وړي.
۹ – نورنومعشوق په دی مکتب کي دخراساني مکتب په څیر ټیټ مقام نه لري بلکه دمبالغی په ځواك لوړه مرتبه مومي .
۱۰ – داسلامي مروجوعلوممختلف ډولونه په شعرکي ځلیږي .
۱۱ – په ځانګړي توګه دیونان، روم ، فلسفه له پامه اوموډه لویږي.
۱۲ – په عراقي مکتب کي دشعر غالب غزل نیسي اوقصیده په تدریجي توګه سره خپل ځاي پریږدي چي اکبر زمینداوري هم یوددی دوری اومکتب دلارویانوڅخه دی چي له دودسره سم یی دقصیدی لاره هغه لاره چي شیخ اسعد اوښکارندوی غوره کړی وه پری ایښی ده اودغزل لمن یی په عشقي کلام سره ډکه کړی ده چي په څنګ کي یی عرفاني اوتصو في کلام هم دیادولووړ دی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

دلته به یوځه لیري ولاړسوداکبر زمینداوري ترعصره به دترکي ادب تاریخ هم وګوروچي آیاپرپښتوژبي یی تاثیرپری ایښی دي که نه؟
داسلامي دوری له پیله داکبرزمینداوري ترعصره دترکي ادبیاتولنډتاریخي سیر...

داکبر دپښتوغزل همزولی، ترکي غزل :
ایاداکبرزمینداوري په شعرکي دترکي ادب څرك سته؟

تاریخونوښودلی ده هرملت دخپل پیداینت اوبیاترننه پوري دپایښت کومه لاره وهلی ده اوپه کوم طبیعت ،محیط،اودکوموانسانانوسره چي یی په سیمه ژوندکړی اواړیکي یی ورسره درلودی حتمي دی چي خپل تاثیرات یی هغو پر ایښي دي او دهغو تاثیر پر دوی چي ورسره په څنګ کي یی دهغه ملت معنوي شتمني ژبه،هنر،ادب ،علم اونوروسره خپل متقابل اثرپریوبل په غیري ارادي ډول منلي دي (۸).
ترکان هم په خپل ختیځ میشتوځایونوکي له زرګونوکلونوراپه دی خواترننه پوري ژوندکوي خپل بدای تاریخ ،ادب علم ،هنر،اونورولرغونواثاروپه درلودلوسره په سیمه کي خپل تاثیرات غوړولي دي اوپه خراسان یا اوسني افغانستان کي اوږده رزمي او ادبي مخینه لري .
ترکان هم دپښتنوپه څیردزرګونوکلونوڅخه ورته پاته شتمني یعني بډای شفاهي ادبیات لري اوداریائیانوپه څیریی نظمونه شفاهي ډول چي سازبه یی ورسره ږغاوه ویل دوی دساز زده کړه له طبیعت څخه کړی وه اوله طبیعت څخه یی الهام اخیستئ ؤ چي ترننه پکښي دکلتوري ساز او سرود تله اوپله درنه ده ، اوتراوسه هم پکښي ځانګړي نڅاوي چي په هغی کي تصوفي حلقی هم راځي دود لري او دا ډول تصوفي نڅاوي بیا ځان ته خپلي ځاګړي جامی لري چي له غزنوي دوری څخه مشهوري دي . (۹)

---

په اسلامي دوره کي لومړني ترکي لاس ته راغلي اثرونه: ۱:قوتادقوبیلیګ(سپیڅلی پوهه ) نومیږي چي په (۴۴۸)هجري (۱۰۶۹)میلادي کي دیوسف حاجب خاص نومي ترکي له خوانظم سوی دي چي دپښتوژبي دادب تاریخي مخینه پری زیاته ښکاري .
۲ – دیوان الغات ترك: دمحمدکاشغري لیکلی اثردی چي په (۴۵۱)هجري کي کښل سوي دي په دی کتاب کي دترکي ژبي لهجی ،دژبي ګرامري جوړښت،عادات اورسوم،ویرني اودری سوه دودیزي پندونه لري (۱۰)

---

۳ – عتبه الحقایق: داحمدیوکنکي لیکنه ده چي په دولسمه میلادي پیړی کي (۱۰۲)دویزه کي ویل سوی دی ،په دی اثرکي دعربي اودري ژبي تاثیرات ډیردي.
۴ - دیوان حکمت: داکتاب په( ۶۵۲)هجري شاوخواکي داحمدیسوي ترکي له خوالیکل سوی دی ددی منظوم اثرڅخه شیخ عطارپه منطق الطیرکي خوبیته له ترکي څخه دري ته راژباړلي دي .
۵ – قصص النبیاء: داکتاب په (۶۸۹) هجري کي دناصررابغوزي دبرهان الدین رابغوزي زوی لیکلی دی.
۶ – اغوزخان داستاني: (داغوزخان داستان) داکتاب داوومي هجري پیړی په دوهمه نیمایي کي لیکل سوی دی موضوع یی داغوزخان لرغونی داستان دی.
۷ - چرخ نامه: دخواجه احمدفقیه اثرد ی هغه لومړنی کس دی چي په وړه اسیاکي یی دخزرسمندرپه لویدیځه برخه کي شعروواپه دی یوبل کتاب د(اوصاف ماساجدالشریفه) په نوم هم لري.
۸ – شیادحمزه : داحمدفقیه دوخت سړی دی چي په لومړي ځل یی دیوسف اوزلیخاکیسه په ترکي ژبه په ( ۱۵۲۹) بیتونو کي وژباړل.
۹ – خواجه دهخاني: نوموړی په اتمه هجري پیړۍ کي اوسیدی له ده څخه څوغزلي اویوه قصیده پاته ده (۱۱)
پورته دترکي ژبي داسلامي لاس ته راغلي لومړي اثاردي چي پیل یی له (۴۴۸) هجري تراتمي هجري پیړۍ پوري رارسیږي دلته سړی پوهیدلای سي چي دپښتولومړنی لاس ته راغلی شعردامیرکروړپه (۱۳۲) هجري په شاوخواکي اودترکي شعرلومړی وارپه اسلامي دوره کي په (۴۴۸) هجري کي رامنځ ته سوی دی چي دپښتوشعرمخینه پرزیاته دههغه څه چي زموږ دلیکني سوژه ده هغه په ترکي ادب کي دغزل ژانر دی چي په همدی اتمي هجري پیړۍ کي داکبر زمینداوري دوخت اوهمزولی تاریخي شالیدلري.

---

په اخیرکي ویلای سو چي ترکي شعراوادب په همدی اتمه هجري پیړۍ کي غوړیدلی اوکه ووایو خپلواکه سوی او بډای سوی هم دی هغه ځکه چي په دی وخت کي خپله ترکي ادبیاتوهم تخلیق اوپنځوني کړي اوهم یی ورسره په څنګ کي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دنوروژبولکه دري اوعربي ځخه ځيني اثارپه ترکي ژبه ژباړلي لکه دسعدي،مولوي،عطاراونظامي ځيني دري اثار چي ترکي ته وژباړل سول.

داکبرزمینداوري په شعردعربي ژبي اوادب تاثير
دعربود ادب تاريخ پرشپړو دوروويشل سوی دی په داسي حال کي چي پښتوادب تاريخ پر درو دورو ويشلی ،دعربي ادبياتوتاريخي دوری په دی ډول دي.
۱ – دجاهليت دوره
۲ – دخلفاي راشيدينودوره
۳ – په ختيځ کي عباسي دوره
۴ – په لويديځ کي عباسي دوره.
۵ – دمغولواوترکانودوره.
۶ – دنهضت دوره.

ددی شپږودوروڅخه هره دوره يی څوبابه لري اوهرباب يی څوفصله لري.
دلته موږدمغولواوترکانوعثماني دوری دعربي ادب سره کارلروچي داکبر زمينداوري دژوندانه د عصرشاوخوادی.
دمغولودوره دعربي ژبواوادبياتودانحطاط اوزوال دوره ده چي دنظم اونثرپه ډګردواړوکي ذوقونه اوقريحی سوړرنګ اخلي ځکه ددی دوری ادبيات بيله زاړه تکراره نوښت اونوی والی نه لري چي دا دوره خپله دعربي ادبيانولپاره يوزړه ماتوونکی دوره ده (۱۳)

اخځليک
۱: ډاکتر زيورالدين زيور، ديښتو ادبياتو ارغونونی دوره، دلوړو زده کړو وزارت، دريم چاپ ۱۳۸۹، ش، مخ ۱۲۱.
۲: ننګيالی بڅرکی، دپښتو ډير لرغوني ادبي ستوري او لرغوني ادبيات، داحمدشاه بابا علمي او ادبي ټولنه.
۳: ډاکتر زيورالدين، مخکنی اثر مخ ۱۲۳.
٤: محمد اکبرسناغزنوي، تاريخ ادبيات دري، مطبعه ميوند، سال ۱۳۸۵ هجري ۱۲۹ – ۱۳۰ مخونه .
٥ : تاريخ ادبيات دري ، مخکنی اثر ، ۱۱ مخ .
٦: دکتور محمد کاظم کهدويي، ادبيات افغانستان در ادوار قديمه، انتشارات الهدا، ۱۳۸٤ هجري، برگرفته از دايرۀ معارف افغانستان ٥۱ مخ.
۷:تاريخ ادبيات دري مخکنی اثر ۱۲ مخ .
۸:او ختای قاسيملي ترکي، نگاهي کوتاه به تاريخ ادبيات ترکي مقاله انترنتي .
۹ : ادبيات ترکي، در دوره تيموريان مقاله انترنتي .
۱۰: تاريخ ادبيات ترکي مخکني اثر.
۱۱: ادبيات ترکي در دوره تيموريان مخکي مقاله .
۱۲ : عبدالحميد ايتي ، تاريخ ادبيات عرب مقاله انترنتي .
۱۳:مخکني مقاله .

نور هم سته ...


افغان جرمن آنلاين په دريښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ